قرآني بيان

# د عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

# شهادت

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ إسلامي)
لاندې جوماتونو دپاره

په 5 جون، کال 2026ء (متوقع اسلامي تاريخ: 18 ذُو الحِجَّةُ الحَرام، کال 1447ھ)
د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 5 جون، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 18 ذُو الـحِجَّةُ الـحَرام، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

په نوم

# د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ شهادت

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ شهادت یو راز دے
- اے فرښتو! دے زما سره میلاؤیدل غواړي
- د اُمت د ناکامۍ یوه سبب
- په دفن کیدو په ځائے کښې د فرښتو ګڼه

پیشکش

اَلْـمَدِیْـنَةُالْعِلْـمِیَـة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ۙ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۙ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۙ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِىَّ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِائَتَيْ صَلَاةٍ غُفِرَ لَهُ ذَنْبُ مِائَتَيْ عَامٍ

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې پهٔ ما باندې د جُمعې پهٔ ورځ 200 کرته دُرُودِ پاک ولوستو د هغهٔ د 200 کالو ګناهونه به معاف شي۔ [1]

| | |
|---|---|
| بروزِ جُمعه پڑھے جو درود اور صَلَوات | نه ہووے کیونکر اُسے نارِ دوزخی سے نجات |
| گر آرزوئے قبولِ دعا ہو اے لوگو! | بروزِ جمعه پڑھو تم درود ہر اوقات[2] |

وضاحت: څوک چې د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ خوږ آقا، د دواړو جهانو پهٔ داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود او سلام لولي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! ضرور به د دوزخ د وور نه نجات حاصل کړي، اے

[1]...القول البديع، الباب الخامس، الصلاة عليه في يوم الجمعة وليلتها، صفحه:196۔

[2]...كافى كى نعت، صفحه: 41 ملتقطًا۔

خلقو! که د دُعاګانو قبليدل غواړئ نو د جُمعې په ورځ بنه ډېر درود شريف لولئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَ مِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَ مَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ (پاره: 21، سورۀ الاحزاب 23)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: په مسلمانانو کښې څۀ هٰغه سړي دي چې هغوئي هٰغه وعده رښتيا کړله کومه چې هغوئي الله سره کړې وه نو په هغوئي کښې چا خپله منبته پوره کړې ده او بعضې لا اِنتظار کوي او هغوئي بالکل بدل نۀ شول۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ◈ حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صحابیِ رسول دے ◈ د مسلمانانو دريم خليفه دے ◈ هغوئي په سابقينِ اَوَّلين (يعني د نبوت د اِعلان نه پس زر اِيمان قبلوونکو) کښې دے ◈ په عَشَرَه مُبَشَّرَه (يعني د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه د جَنَّت په زيرې اوريدونکو لسو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم) کښې دے ◈ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يوې پسې بَله خپلې دوه شهزادګۍ حضرت

عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته پهٔ نکاح کښې ورکړې- ◈ دا هُغه شرف دے کوم چې پهٔ دې دُنيا کښې د هغوئي نه علاوه د يو نبي د يو اُمتي هم نهٔ دے نصيب شوے، ځکه هغوئي ته ذُو النُّورَين (يعنې د 2 نُورونو والا صحابي) وئيلے شي- [1]

| | |
|---|---|
| نُور کی سرکار سے پایا دوشالہ نُور کا | ہو مُبارک تُم کو ذُو النُّورَین جوڑا نُور کا[2] |

◈ د مولائے کائنات، مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو وه يې فرمائيل: عثمان هغه څوک دے چا ته چې فرښتے **ذُو النُّورَين** وائي، د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څوم دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته د جنَّت زيرے ورکړے- [3]

| | |
|---|---|
| نبی کے نور دو لے کر وہ ذُو النُّورَین کہلائے | انہیں حاصِل ہوئی یوں قربتِ محبوبِ رحمانی[4] |

◈ د اِسلام د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهادت نه پس د مسلمانانو پهٔ کثرتِ رائے سره حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خليفه مقرر شو، د 12 کالو پورې هغوئي خليفه وو، پهٔ 18 ذُو الـحجه پهٔ 35 هجرئ د ډيرو ورځو وږے تږے اوسيدو نه پس ډير پهٔ ظلم زور سره شهيد کړے شو- [5]

---

[1]… نزہۃ القاری، جلد:1، صفحہ:544، خلاصۃً۔

[2]… حدائقِ بخشش، صفحہ:246۔

[3]… معرفۃ الصحابہ، رقم:3، معرفۃ عثمان بن عفان، معرفۃ انہ کام …الخ، جلد:1، صفحہ:83، حدیث:240۔

[4]… وسائلِ بخشش، صفحہ:584۔

[5]… نزہۃ القاری، جلد:1، صفحہ:544 و 545 خلاصۃً۔

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شهادت يو راز

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شهادت د اِسلام د تاريخ يوه ډيره اهمه او ډيره غمژنه پيښه ده ◈ دا پهٔ اصل کښې د قُدرت يو راز وو، داسې کيدل وو او ضرور به کيدل ◈ پهٔ مخکښينو اسماني کتابونو کښې هم د دې ذِکر موجود وو او خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم ډير ځل پهٔ دې باره کښې د غيبو خبر اِرشادات فرمائيلې وو ◈ د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شهادت د اِسلام پهٔ تاريخ کښې هُغه وړومبی موقع وه، کله چې د مسلمانانو يو والے مات شو ◈ يو غير مسلمه وو، د هغه دا سازش وو، د هغه د سازش پهٔ وجه د مِصر ځينو خلقو بغاوت اوکړو، د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د کور مبارک نه چاپيره شول او هغوئي 40 ورځې هلته د قيد کيدو نه پس پهٔ ظلم سره شهيد کړے شو، د هغوئي پهٔ دې شهادت کښې زمونږ د پاره هم د زدکړې ډير سبقونه دي، مونږ پهٔ شروع کښې د 21 سيپارې، د سورۀ اَحزاب د 23 آيت د اوريدو سعادت حاصل کړو، پهٔ دې آيت مبارک کښې د هغوئي د شهادت ذِکر شوے دے، راځئ چې وړومبے پهٔ دې آيت باندې ځان پوهه کړو، بيا به د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د شهادت واقعه او د هغې نه ميلاؤيدونکې سبقونه زده کوو-

## د آيت مبارک مختصر وضاحت

اللّٰه پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا<br>(پاره: 21، سورۀالاحزاب 23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پهٔ مسلمانانو کښې څهٔ هُغه سړي دي چې هغوئي رښتيا کړله- |

څهٔ يې رښتيا کړله؟

| | |
|---|---|
| مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ (پاره: 21، سورۃ الاحزاب 23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هٰغه وعده کومه چې هغوئي الله سره کړې وه- |

د تفسير علمائے کرام فرمائي: ◈ حضرت عثمانِ غني ◈ حضرت طلحه ◈ حضرت سَعد بِن زيد ◈ حضرت اميرِ حمزه ◈ حضرت مُصعَب او يو څو نورو صحابهٔ کرامو عليهمُ الرّضوَان پهٔ خپل ځان سره دا لوظ کړے وو چې مونږ به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره هميشه ثابت قدم اوسو، د دې پورې چې شهيدان کړے شو- نو دوئي پهٔ خپلو وعدو باندې د اخري وخته پورې قائم وو، (1) الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ (پاره: 21، سورۃ الاحزاب 23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو پهٔ هغوئي کښې چا خپله منښته پوره کړې ده- |

يعني امير حمزه او حضرت مُصعَب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما هٰغه دي کومو چې د شهادت مرتبه حاصله کړې ده او خپله منښته يې پوره کړې ده او

| | |
|---|---|
| وَ مِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَ مَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ (پاره: 21، سورۃ الاحزاب 23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بعضې لا اِنتظار کوي او هغوئي بالکل بدل نهٔ شول- |

حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، حضرت طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هٰغه دي، کوم چې د دې شهادت

---

1 … تفسير روح البيان، پاره:21، سورۂ احزاب، زير آيت:23، جلد:7، صفحه:160-

د مرتبې پهٔ اِنتظار دي او دا ټول صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم هُغه دي کوم چې د خپلې وعدې نه بالکل اخوا بدل نهٔ شول- (1)

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د شهادت پهٔ باره کښې د غیبو خبرونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې آیت مبارک کښې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دا شان بیان شو چې هغوئي ډیر زیات د خپل شهادت اِنتظار کولو-

پهٔ روایتونو کښې راغلي دي چې یوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ، حضرت ابو بکر صِدِّیق، حضرت عمر فاروق او حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم دا څلور واړه حضراتِ عالي وقار، پهٔ اُحُد غر باندې وو، ناڅاپه د اُحُد غر پهٔ خوزیدو شو-

(عاشقان وائي، اُحُد غر به د حُضُور، جانِ کائنات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت کولو، ځکه د اُحُد غر پهٔ خوشحالۍ کښې پهٔ خوزیدو شو) پهٔ دې باندې د دواړو جهانو مالِک او مختار، مکي مدني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے اُحُده! ودریږه---!! پهٔ تا باندې یو نبي، یو صِدِّیق او دوه شهیدان ولاړ دي- دا یې چې واوریدل نو اُحُد غر فوراً ودریدو- (2)

ایک ٹھوکر میں اُحُد کا زلزلہ جاتا رہا | رکھتی ہیں کتنا وقار اللہ اکبر ایڑیاں (3)

سُبۡحٰنَ اللّٰہ! د مالِک او مختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِختیارونو ته وګورئ چې

---

[1]… تفسیر روح البیان، پارہ:21، سورۂ احزاب، زیر آیت:23، جلد:7، صفحہ:161۔

[2]… بُخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی صَلَّی اللّٰہُ علیہ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحہ:932، حدیث:3675۔

[3]… حدائقِ بخشش، صفحہ:87۔

غرونو ته حُکم کوي او د عِلمِ غیب شان ته یـې هم وګورئ چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ او حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ لا ژوندي دي، د دُنیائي ژوند سره د حُضور سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره موجود دي، ډیر کلونه پس هغوئي ته چرته شهیدان کیدل وو خو د غیبو نه خبر نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د مخکښې نه معلومه وه چې عمر فاروق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به هم شهید کیږي او عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به هم شهید کیږي-

صحابیِ رسول حضرت اَبو مُوسیٰ اَشعري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: یوه ورځ زۀ د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د مدینے پۀ باغونو کښې پۀ یو باغ کښې ووم، یو ګس راغلو، هغه دروازه وډبوله، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اِفْتَحْ لَهٗ وَ بَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ دۀ ته دروازه برسیره کړه او دۀ له د جَنَّت زیرے ورکړه- فرمائي: ما دروازه برسیره کړه نو هغه حضرت ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وو، ما هغوئي له د جَنَّت زیرے ورکړو- هغوئي د الله پاک شُکر ادا کړو- څۀ وخت پس بیا دروازه وډبیدله، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیا وفرمائیل: اِفْتَحْ لَهٗ وَ بَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ دۀ ته دروازه برسیره کړه او دۀ له (یعني راتلونکي له) د جَنَّت زیرے ورکړه! حضرت اَبو مُوسیٰ اَشعَرِي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما دروازه برسیره کړه، دا راتلونکے حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وو، ما هغوئي له د جَنَّت زیرے ورکړو، هغوئي هم د الله پاک شُکر ادا کړو (او دربار رسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو)- څۀ وخت پس پۀ دریم ځل دروازه وډبیدله، پۀ دې ځل د غیبو د خبرو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اِفْتَحْ لَهٗ وَ بَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلٰی بَلْوٰی تُصِیْبُهٗ یعني دروازه برسیره کړه او راتلونکي ته ووایه چې یو مصیبت کوم چې به هغوئي ته رسیږي، د هغې نه پس دے

جَنَّتي دے۔ حضرت اَبو مُوسیٰ اَشعَرِي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما چې دروازه برسيره کړه نو مخې ته حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وو، ما هغوئي له د جَنَّت زيرے ورکړو او دا مې هم ووئيل چې ډير زر به هغوئي ته يو اِمتحان پيښيږي، حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د جَنَّت پۀ زيري ميلاؤيدو باندې د الله پاک شُکر ادا کړو او وه يې وئيل: اَللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ الله مددګار دے (يعني ما ته چې به کوم مصيبت رارسيږي، د الله پاک پۀ مدد سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! زۀ پۀ هغې کښې کامياب شم)۔ [1]

پۀ دې حديثِ پاک کښې هم وګورئ چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غيبو خبر ورکړو او وه يې فرمائيل چې عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به د يو اِمتحان نه تيريږي، بيا به پۀ هُغه اِمتحان کښې کاميابيږي هم او د هغې نه پس به جَنَّت ته هم رسيږي۔

سُبْحٰنَ الله! دا دے زما د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِلمِ غيب---!! څکه خو مونږ وايو:

| | |
|---|---|
| جو ہو چکا ہے جو ہو گا حُضُور جانتے ہیں | تیری عَطا سے خُدایا حُضُور جانتے ہیں |
| وہی ہیں پیکرِ شَرم و حَیا و ذُو النُّورَین | مقام اُن کی حَیا کا حُضُور جانتے ہیں |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا دوه حديثونه مونږه واوريدل، پۀ دې دواړو حديثونو کښې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ له د شهادت زيرے ورکړے شو، دا ووئيلے شو چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به پۀ طبعي مرګ رحلت نۀ فرمائي بلکې هغوئي به د دِين پۀ خِدمت کولو، د شهادت مرتبه مومي۔ فقيهِ مِلَّت مفتي جلال الدين امجدي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي:

---

[1]... بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر بن الخطاب رَضِیَ اللّٰہُ عنه، صفحه:936، حدیث:3693۔

حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ښه معلومه وه چې د وَلې رواني اوبۀ ودريدے شي، غرونه د خپل ځائے نه لرې کيدے شي خو د الله پاک د محبوب، دانائے غيوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان کله هم نشي خطا کيدے، ځکه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پوره يقين وو چې حُضُور جانِ کائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي نو بيا به زما لازمي د شهادت مرتبه نصيب کيږي، ځکه هغوئي ټول عمر ډير زيات د خپل شهادت اِنتظار کولو- (1)

## د الله پاک سره د ملاقات شوق ساتئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته زمونږ د پاره سبق دے لکه څنګه چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ د پاره نا قلاره وو، مونږ له هم د خپل رَبِّ کريم ملاقات محبوب ساتل پکار دي- پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: مَنْ اَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰهِ اَحَبَّ اللّٰهُ لِقَائَهُ خوک چې د الله پاک سره د ملاقات شوق لري، الله پاک د هغۀ سره ملاقات خوښوي- (2)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: پۀ دې حديثِ پاک کښې د الله پاک د ملاقات نه مُراد مرګ دے ځکه چې هم مرګ د الله پاک د ملاقات ذريعه ده خو د الله پاک سره د ملاقات خوښولو دا معنیٰ نۀ ده چې اِنسان دې د مرګ ارمان کوي، د مرګ دعاګانې دې کوي، دا

---

1…خطباتِ محرم، صفحه:154۔

2…بُخاری، کتاب الرقاق، باب من احب لقاء الله...الخ، صفحه:1598، حديث:6507۔

خو منع دي، **د الله پاک سره د ملاقات خوښولو معنیٰ دا ده** چې اِنسان پۀ دُنیا کښې زړۀ نۀ لګوي، د اخرت تیاري کوي، هر وخت د الله پاک د رضا والا کارونو کښې مصروف وي، داسې ګس الله پاک خوښوي، د هغۀ ژوند هم د الله پاک خوښ وي او د هغۀ مرګ هم د الله پاک خوښ دے۔ (1)

## اے فرښتو! دے زما سره میلاؤیدل غواړي

حضرت اِبراهیم بن شَیبَان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: کله چې به د قیامت ورځ شي، ټول مخکښیني وروستني خلق به د رَبِّ قادر او قیوم پۀ دربار کښې حاضر وي، هغه وخت به فرښتے د مسلمانانو د یوې ډلې خوا له راشي، اِرشاد به فرمائي: اے د الله پاک دوستانو! راځئ زمونږ سره۔ هغه اولیاءُ الله به پوښتنه کوي: چرته تلل دي؟ فرښتے به فرمائي: د هغه جَنَّت طرف ته د کوم پلن والے چې د زمکې او د اسمان برابر دے، ستاسو د پاره جوړ کړے شوے دے۔ هغه اَولِیَاءُ الله به عرض کوي: مونږ ژوند د جَنَّت پۀ غوښتو کښې خو نۀ دے تیر کړے، کله چې هغوئي دا ووائي نو الله پاک به اِرشاد وفرمائي: مَلَائِکَتِیۡ اے زما فرښتو! اُتۡرُکُوۡهُمۡ دوئي پریږدئ--!! فَاِنَّهُمۡ لَایَرۡضِیۡهِمۡ غَیۡرَ النَّظۡرِ اِلٰی وَجۡهِیۡ بے شکه دوئي زما د دیدار نه علاوه پۀ هیڅ خیز نۀ راضي کیږي۔ (2)

سُبۡحٰنَ الله! دا دے د هغه خلقو شان کومو چې ژوند تیر کړو نو د الله پاک سره د

---

1… مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحه:437 بتغیر قلیل۔

2… علمُ القلوب، باب حکم النیة فی الاعمال، الایة الاولیٰ، صفحه:166۔

ملاقات د پاره يـې پۀ نا قلارئ کښې تير کړو، د رَبِّ رحمان پۀ محبت کښې يـې تير کړو، د هغۀ د ديدار شوق يـې لرلو او نيکئ يـې کولې- الله پاک دې مونږ هم د دوئي نه کړي! کاش چې زمونږ د اخرت فِکر، د الله پاک سره ملاقات او د هغۀ د ديدار شوق نصيب شي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرئ د پاره تيار اوسئ!

يو ځل د اعلیٰ حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ خِدمت کښې پوښتنه وشوه: (د مؤمِن شان دا دے چې) د مرګ د پاره پۀ خوشحالئ سره تيار اوسي، څوک چې ګنهګار دے هغه اخر څنګه پۀ خوشحالئ د مرګ د پاره تيار اوسيدے شي (هغه خو به ويريږي چې آه! چرته مرګ رانشي، هسې نۀ چې پۀ ګناهونو باندې زۀ راګير نکړے شم)؟

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې ډير ښکلے جواب ورکړو، وه يـې فرمائيل: هغه اِنسان له پکار دي چې ګناه پريږدي، توبه کړي او پۀ خوشحالئ د مرګ د پاره تيار اوسي- (1)

## د اُمت د ناکامئ يوسبب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له دا کول پکار دي چې ګناهونه پريږدو، رښتوني پخه توبه اوکړو، نيک کارونه اوکړو، بيا د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرئ د پاره هر وخت پۀ خوشحالئ تيار اوسو-

[1]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:379-

یوه ښکلې خبره عرض کړم: نن مسلمان اُمت پهٔ مجموعي توګه د زوال ښکار دے، پهٔ ډیرو ځایونو کښې پهٔ مسلمانانو باندې ظلمونه کیږي، د دې ټولو یوه وجه د مرګ نه نفرت هم دے، پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: ډیر زر به پهٔ تاسو باندې قومونه داسې راغوټه کیږي، لکه څنګه چې د خوراک پهٔ لوښي راغوټه کیږي، صحابهٔ کرامو عَلیہِمُ الرِّضوَان پوښتنه اوکړه: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! آیا مونږ به هُغه وخت کم یو؟ وه یـې فرمائیل: نا، هُغه وخت به ستاسو شمیره ډیره زیاته وي خو هُغه وخت به دوه بدۍ وي: **(1)**: د دُنیا سره محبّت **(2)**: د مرګ نه نفرت۔ [1]

الله! الله! نن مسلمانان پهٔ اربونو دي خو زوال دے، مظلومیت دے، د دې وجه څهٔ ده؟ زمونږ پهٔ زړونو کښې د دُنیا محبت زیات شوے دے او د اخرت شوق کم شوے دے۔ د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ وسیله دې الله پاک زمونږ د اخرت شوق نصیب کړي، کاش چې زمونږ د الله پاک محبت نصیب شي، پهٔ هُغه محبت کښې ژوندي یو او پهٔ هُغه محبت کښې د دُنیا نه لا ړ شو۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

محبت میں اپنی گُما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی! [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ...ابو داؤد، کتاب الملاحم، باب فی تداعی الامم علیٰ اھل الاسلام، صفحه:675، حدیث:4297۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:105۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رازدار

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خاصيتونو کښې يو خاصيت دا دے چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند مبارک کښې د ټولو نه اخري نصيحت چا ته کړے،نو هغه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے- په روايتونو کښې دي: د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې چې کله مرض حاضر وو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ راوغوښتو، هغوئي حاضر شول، وه يې فرمائيل: عثمانه! ما ته رانزدې شه! هغوئي ورنزدې شول، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سر مبارک د هغوئي طرف ته رااوچت کړو، بيا يې په رازدارۍ سره څۀ نصيحت اوکړو او وه يې فرمائيل: اَفَهِمْتَ مَاقُلْتُ لَكَ؟ آيا تۀ پوهه شوې څۀ چې ما ووئيل؟ عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض اوکړو: آؤ جي! يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! (زۀ پوهه شوم)- بيا نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا په رازدارۍ سره څۀ وفرمائيل: بيا يې پوښتنه اوکړه: آيا تۀ پوهه شوې؟ عرض يې اوکړو: آؤ جي! يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! بيا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دريم ځل هم داسې نصيحت وفرمائيلو- [(1)]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا راز وو کوم چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ووئيلو، هغوئي داسې رښتونے رازدار وو چې هغوئي چرې هم دا راز ښکاره نۀ کړو-

[1]… مسند امام احمد، مسند عائشه صديقه رَضِیَ اللّٰہُ عنها، جلد:10، صفحه:624، حديث:27023 خلاصةً-

## د شهادت واقعه

د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خِلافت اخري کال وو، ځينو منافقانو د هغوئي خِلاف سازش جوړ کړو چې په نتيجه کښې يــې د مِصر خلقو د هغوئي خلاف بغاوت اوکړو او مدينے منورې ته راغلل او د هغوئي د کور نه چاپيره شول- اوس حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دننه وو، هغوئي يې بهر وتلو ته هم نۀ پريښودو، د بهر نه د خوراک څښاک څۀ سامان هم دننه نۀ پريښودے کيدو، څو ورځې هغوئي هم داسې تيرې کړې! د هغوئي سره د **محبت** کوونڪو د طرف نه به بيا بيا عرض کيدلو چې عالي جاه! حڪم اوکړئ چې مونږ دا باغيان پۀ لږ وخت کښې د دې ځائے نه لرې کړو خو د هغوئي هم يو جواب وو: **خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **زما سره وعده فرمائيلې ده او زۀ به پۀ هغې باندې صبر کووم-** (1)

## خون ريزي يــې منظوره نۀ کړه

د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د بے مثاله صبر نه قربان شم--!! د شهادت جام يــې خو وڅښلو خو پۀ مدينه منوره کښې يــې د مسلمانانو وينه توئيول خوښ نۀ کړل- د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د کور مبارک نه خلق چاپيره شول او اوبۀ پرې بندې کړے شوې ◈ د هغوئي سره محبت کوونڪي کور ته حاضر شول او د باغيانو سره يــې د مقابلې اِجازت وغوښتو خو عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِجازت ورکولو نه اِنڪار اوکړو او ◈ کله چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غلامان د وسلې سره د اجازت اخستو د پاره حاضر شول نو وه يــې

[1]... رياض النضرة، جز:3، الباب الثالث، الفصل الحادی عشر، ذکر عرض علی وغيره...الخ، صفحه:60 و 61 خلاصةً-

فرمائیل: که تاسو زما خوشحالي غواړئ نو وسله وغورځوئ او واورئ! پهٔ تاسو کښې چې کوم غلام هم وسله وغورځوي ما هغه ازاد کړو- پهٔ الله پاک مې دې قَسم وي! د وینې توئیدو نه مخکښې زما شهید کیدل زما ډیر خوښ دي- زما شهادت لیکلے شوے دے او رسولِ ذِیشان، محبوبِ رحمان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما له د دې زیرے راکړے دے- حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپلو غلامانو ته وفرمائیل: **که تاسو جنګ کوئ نو بیا به هم زهٔ شهید کیږم-** [1]

جو دِل کو ضِیا دے جو مُقدّر کو جِلا دے | وہ جَلوَہ دِیدار ہے عثمانِ غنی کا [2]

**وضاحت:** حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اوچت شان والا هستي ده، د چاد دیدار پهٔ برکت چې زړونه روښانه کیږي او قِسمتونه ښه کیږي-

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام سره مُشابهت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ دې ځائے کښې حُضُور داتا ګنج بخش علي هُجویري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ډیره عِلمي نکته بیان کړې ده، لیکلي یې دي: چې پهٔ دې محاصره کښې یو ځل حضرت اِمام حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوا له تشریف راوړلو، عرض یې اوکړو: اے اَمِیرُ الْمُؤمِنِین! اِجازت راکړئ چې مونږ دا باغیان د دوئي انجام ته ورسوو- حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائیل: اے ورارهٔ! کور ته لاړ شئ! ارام اوکړئ! د دې پورې چې د تقدیر لیکل شوي غالِب راشي، لَاحَاجَةَ لَنَا فِی اِهْرَاقِ الدِّمَاءِ مونږ ته د وینې توئیولو

---

[1]... تحفه اثنا عشرة، مطاعن عثمان رَضِیَ اللّٰہُ عنه، طعن دہم، صفحه:327-

[2]... ذوقِ نعت، صفحه:81-

هیخ حاجت نشته-

داتا حُضُور رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د دې روايت د ليکلو نه پس فرمائي: د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د سيرت مبارک دا اړخ چې باغيان ترې راتاؤ شوي دي، د هغوئي نه د مدد اِجازت غوښتلے کيږي، عرض کولے شي چې اِجازت را کړئ! مونږ به دا باغيان خپل اَنجام ته ورسوو، هغوئي بيا هم څۀ کام نۀ پورته کوي، پۀ تقدير باندې راضي اوسي، د هغوئي د سيرت مبارک دا اړخ هُغه دے کوم چې د الله پاک د نبي حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام سره کمال مُشابهت لري، هُغه وخت هم وو کله چې حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام وور ته غورځولے کيدلو، جبريلِ امين عَلَیْہِ السَّلَام حاضريږي، عرض کوي: اے اِبراهيمه عَلَیْہِ السَّلَام ! که څۀ حاجت وي نو وفرمايئ! وه يې فرمائيل: حاجت خو شته خو ستا سره نۀ ، عرض يې اوکړو: چا ته چې مو حاجت دے هم هغوئي ته يې عرض کړئ! وه يې فرمائيل: الله پاک ته معلومه ده، زما غوښتو ته څۀ حاجت نشته-

داتا حُضُور رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: هغه حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام وو کوم چې د تسليم او رضا دومره اوچت مقام ته رسيدلے وو، جبريل عَلَیْہِ السَّلَام د مدد د پاره حاضريږي، هغوئي مدد نۀ اخلي، د الله پاک پۀ ليکلے شوي تقدير باندې راضي اوسي، دلته حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے، سخته ده، پريشاني ده، اِمتحان دے، حضرت مولیٰ علی، اِمامِ حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما د مدد د پاره راځي خو حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغوئي مدد نۀ حاصلوي بلکې د الله

پاک پهٔ لیکلے شوي تقدیر باندې راضي اوسي- [1] د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم دا ځغه عظیم شان دے د کوم پهٔ بیانولو چې د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّانُشَبِّهُ عُثْمَانَ بِاَبِيْنَااِبْرَاهِيْمَ بے شکه مونږ عثمان د خپل والِد اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام مُشابهه ګڼو- [2]

یعني د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ سیرت کښې د حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام د سیرت رنګ موجود دے- سُبْحٰنَ الله! دا څومره لوئي شان دے---!!

| | |
|---|---|
| الله سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا | محبوبِ خُدا یار ہے عثمانِ غنی کا |
| جس آئینہ میں نور الٰہی نظر آئے | وہ آئینہ رخسار ہے عثمانِ غنی کا [3] |

وضاحت: حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د الله پاک سره بے کچه محبت کوونکے، د محبوبِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوست او صحابي دے، د هغوئي مخ مبارک داسې روښانه دے چې پهٔ دې کښې د الله پاک نُور ځلیږي-

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ درې خاص صفتونه

داتا حُضُور رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د طریقت مشائِخو یعني لوئي لوئي اولیائے کرامو (1): د مال او د ځان هدیه (یعني د الله پاک پهٔ نوم باندې ځان قربانول) (2): تسلیمِ اُمُور (یعني د

---

[1]...کشف المحجوب، صفحه:86 و 87 خلاصةً۔

[2]...مسند الفردوس، جلد:1، صفحه:55، حدیث:152۔

[3]...ذوقِ نعت، صفحه:80 و 81 ملتقطًا۔

الله پاک پهٔ لیکلے شوي تقدیر باندې راضي کیدل ) او (3): اِخْلاص (یعني همیشه د رَبّ د رضا طلبګار اوسیدل)، دا درې خاص صفتونه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه زده کړې دي- (1)

ځنګه چې هغوئي د الله پاک پهٔ لار کښې، د دِین د خِدمت د پاره، د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د کړې وعدې د پاره صبر اوکړو، د کوم کمال اِستقامت سره چې پهٔ تقدیر باندې راضي اوسیدل ، دا هم د هغوئي خصوصي شان دے-

## د الله پاک پهٔ رضا باندې راضي اوسئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا زمونږ د پاره سبق دے، وګورئ چې څومره مشکله مرحله وه ◈ 40 ورځې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ مُحاصره [یعني ګِیرهٔ] کښې تیرې کړې ◈ لوږه تنده یـې برداشت کړه ◈ پهٔ دغه وخت کښې به هم هغوئي روژې نیولې ◈ ډیر پهٔ اِطمینان سره به یـې د قرآنِ کریم تِلاوت کولو ◈ د ډیرو سختو تیرولو باوجود هم پهٔ وینه توئیولو باندې راضي نهٔ شو بلکې د الله پاک پهٔ رضا باندې راضي او صابِر پاتې شولو-

کاش چې زمونږ هم دا جذبه نصیب شي، افسوس چې ◈ مونږه خلق ډیرې چغې سورې وهو ◈ بے صبري ډیره کوو ◈ مَعَاذَالله! خلق د الله پاک نه ګیلې کوي (اَستَغفِرُالله! اَستَغفِرُالله!)، زمونږ مشکلات څهٔ دي؟ ◈ چې یو وخت خوراک میلاؤ نهٔ شي نو مونږ بے صبره کیږو ◈ که نوکري ختمه شي ◈ کار بند شي ◈ یو څو ورځې امدن بالکل ختم نهٔ

---

[1]... کشف المحجوب، صفحه:87 بتغیر قلیل-

بس لږ شان کم شي نو مونږ بے صبره کيږو ◈ لږ مو چي پۀ سر باندې درد شي نو **هى هُو** شروع کړو ◈ څۀ بيماري راشي نو نا شُکري شروع کړو- الله پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم اوکړي، کاش چې زمونږ د تَسلِيم او رضا دولت نصيب شي، هر وخت، هر ساعت د الله پاک پۀ رضا باندې راضي کيدونکي جوړ شو-

گو یہ بندہ نکما ہے بیکار، اس سے لے فضل سے رَبِّ غَفَّار
کام وہ جس میں تیری رِضا ہے، یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے
میری بَک بَک کی عادَت مِٹا دے اور آنکھیں حیا سے جُھکا دے
صدقہ عثمان کا جو باحیا ہے، یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے[1]

## پۀ حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې کرم

حضرت عبدُ الله بن سلام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې پۀ کومو ورځو کښې باغيانو د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د کور مبارک نه ګيرۀ اچولې وه، د هغوئي کور ته يو څاڅکے اوبۀ هم نۀ پريښودلے کيدې او حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به د تندې پۀ وجه نا قلاره وو- زۀ د ملاقات د پاره حاضر شوم نو د حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ هغه ورځ روژه وه- زۀ چې يې وليدم نو وه يې فرمائيل: اے عبدُ الله بن سلام (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ)! ما بيګاه د دواړو جهانو تاجدار، مکي مَدَني سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې روشن دان کښې وليدلو، بے مثاله نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محبت نۀ پۀ ډيره ډکه لِـهجه کښې وفرمائيل: اے عثمانه (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) ! دې خلقو پۀ

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:138و 139 ملتقطًا-

اوبو بندولو تاسو د تندې نه نا قلاره کړي يئ؟ ما عرض اوکړو: آؤ جي- نو فوراً نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه بوقه زما طرف ته رازوړنده کړله، کومه چې د اوبو نه ډکه وه، ما ښۀ پۀ مړه خيټه وڅښلې، اوس هم د هغه اوبو يخ والے پۀ خپله سينه کښې محسوسوم- بيا حُضُور اکرم، سراسر جودُ و کرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته وفرمائيل: که ستاسو خواهش وي نو چې د دې خلقو پۀ مقابله کښې ستاسو اِمداد اوکړم او که تاسو غواړئ نو زمونږ خوا له راشئ او مونږ سره روژه ماته کړئ! ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پۀ خِدمت کښې حاضريدل او ستاسو سره روژه ماتول زما ډير خوښ دي- حضرت عبدُ الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: زۀ د هغې نه پس را رخصت شوم او راغلم او هم پۀ هغه ورځ باغيانو عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهيد کړو- (1)

اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ خپل کلام کښې ليکلي دي:

رکھا محصُور اُن کو بند ان پر کر دیا پانی
شہادت حضرتِ عثمان کی بے شک ہے لَاثانی (2)

## د دفن کولو پۀ ځائے کښې د فرښتو ګڼه

روايت دے چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ جنازه د شپې پۀ تيارۀ کښې د هغوئي يو خو جان نثارانو را اوچته کړه او جَنَّتُ البقيع ته ورسيدل، لا يـې قبر کنستو چې ناڅاپه [پۀ آسونو يا اوښانو باندې] سوارۀ ګڼ شمير خلق جَنَّتُ البقيع ته را داخِل شو د هغوئي پۀ

---

1... موسوعه ابن ابي الدنيا، كتاب المنامات، جلد:3، صفحه:74، حديث:109-

2... وسائلِ بخشش، صفحه:584-

ليدو باندې دا حضرات ويريدل- هغوئي په تيز اواز ووئيل: تاسو حضرات بالكل مه ويريږئ مونږ هم د دوئي په دفن كولو كښې د شركت د پاره حاضر شوي يو- دا اوازيـې چې واوريدو نو د خلقو ويره ختمه شوه او په اطمينان سره حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دفن كړے شو- د هديرې نه چې واپس راغلل نو هغه صحابهٔ كرامو عَلَیهِمُ الرِّضْوَان قَسم وخوړلو او خلقو ته يـې ووئيل چې يقيناً چې دا د فرښتو ډله وه- [1]

رُک جائیں مرے کام حسنؔ ہو نہیں سکتا | فیضان مددگار ہے عثمانِ غنی کا [2]

## د ګستاخ عبرتناک انجام

حضرت ابو قِلابَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بيانوي: چې زهٔ يو ځل په شام كښې ووم، يوه ورځ ما يو اواز واوريدو، چا چغې وهلې: هئ افسوس! زما د پاره دوزخ دے، هئ افسوس! زما د پاره دوزخ دے، زهٔ ډير حيران شوم چې اخر دا څوک دے؟ چې په دومره يقين سره وائي چې زما د پاره دوزخ دے- فرمائي: چې د كوم طرف نه اواز راتلو، زهٔ پاڅيدم او هغه طرفته روان شوم، هلته ما يو حيرانيدونكے منظر وليدوه، يو كَس دے، چې دواړه لاسونه يې هم پريكړے شوي دي، دواړه ښپې يـې هم پريكړے شوي دي، په دواړو سترګو هم ړوند دے او په زمكه اُلټا پروت دے او بيا بيا هم دا چغې وهي چې هئ افسوس! زما د پاره دوزخ دے، هئ افسوس! زما د پاره دوزخ دے-

[1] … شواہد النبوۃ (مترجم)، صفحه:276۔

[2] … ذوقِ نعت، صفحه:81۔

ما د هغهٔ نه پوښتنه اوکړه: اے انسانه! تهٔ داسې ولې او پهٔ څه وجه وائې؟ هغهٔ پر اسراره [نا اشنا] ګس ووئيل: اے پوښتنه کوونکيه! زما نه د حال تپوس مهٔ کوه --!! افسوس چې زهٔ پهٔ هٰغه بد بختو کښې يم څوک چې د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهيد کولو د پاره د هغوئي کور ته ننوتې وو، ما چې کله توره راواخسته او د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوا ته اورسيدم نو د هغوئي کور وداني محترمې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا پهٔ زوره زوره ماته ستغې سپورې شروع کړې، د هغې د ستغو سپورو پهٔ اوريدو ما له غصه راغله، ما پهٔ غصه کښې بي بي صاحبې له مَعَاذَالله! څپيړه ورکړه، چې کله حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا دا منظر وليدلو نو هغوئي ماته 4 ښيرې اوکړې: (1) هغوئي وفرمائيل: الله پاک دې ستا دواړه لاسونه (2): دواړه ښپې پريکړې (3) تا دې ړوند کړي او (4): تا دې دوزخ ته ګزار کړي-

د اَمِيْرُالْمُؤمِنِيْن د جلال نه پهٔ ډک مخ ليدلو او د هغوئي د دې قهر د ښيرو اوريدو سره پهٔ ما غونے ځيګ ځيګ شو او زهٔ د ويرې نه پهٔ رپيدو د هٰغه ځائے نه راوتښتيدم- افسوس چې د اَمِيْرُالْمُؤمِنِيْن حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ هٰغه 4 کښې پهٔ 3 ښيرو کښې خو ګير شوے يم، تهٔ وينې چې زما دواړه لاسونه هم پرې شوي دي، زما دواړه ښپې هم پرې شوې دي، او د سترګو نظر مې هم تلے دے، افسوس! ډير افسوس چې اوس صرف څلورمه دعا پاتې ده (يعني زما دوزخ ته تلل پاتې دي)- [1] واورئ چې اميرِ اهلِسُنَّت څهٔ فرمائي:

---

[1] ...الرياض النضرة، الجزء الثالث في مناقب عثمان بن عفان، صفحه:37-

خدا بھی اور نبی بھی، خود علی بھی، اس سے ہیں ناراض
عَدُو اُن کا اُٹھائے گا قیامت میں پریشانی

عَداوت اور کینہ اُن سے جو رکھتا ہے سینے میں
وہی بد بخت ہے، مَلعُون ہے، مَردُود شیطانی

ہم اُن کی یاد کی دُھومیں مچائیں گے قیامت تک
پڑے ہو جائیں جل کر خاک سب اَعدائے عثمانی(1)

**وضاحت:** ◈ کوم بد بخته چې د حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دښمن دے، د هغهٔ نه الله پاک هم ناراضه دے، د هغهٔ محبوب نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم ناراضه دے، مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم ناراضه دے ◈ داسې چې کوم بد بخته دے هغه به د قیامت پهٔ ورځ ډیر پهٔ پریشانی کښې راګیر وي ◈ د چا پهٔ زړهٔ کښې چې د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دښمني وي نو هغه ګس لعنتي دے ◈ د رحمت نه محرومه کړے شوے دے ◈ د شیطاني عادتونو والا دے ◈ مونږ عاشقانِ رسول او عاشقانِ اهلِ بیت رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم به د قیامته پورې د هغوئي د عظمتونه بیانوو اګر که د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دښمن پرې سوزي اِیره کیږي۔

الله پاک دې زمونږ د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم رښتونے پوخ محبت نصیب کړي، د دې پاکو هستیانو د ګستاخئ او بے ادبئ نه مو دې محفوظه وساتي، کاش چې د

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:584و585۔

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په عشق، د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د آل په محبت، د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم او د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم په محبت مو ژوند، هم د دې محبت سره قبر ته کوزیدل، بیا هم د دې محبت سره د قیامت په ورځ راپاڅیدل نصیب شي-

| | |
|---|---|
| آل و اَصحابِ نبی سب بادشہ ہیں، بادشاہ | میں فقط ادنٰی گدا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| فضلِ رَبّ سے دوجہاں میں کامیابی پائے گا | دِل سے جو شیدا ہوا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| جینا مرنا اُن کی اُلفت میں ہو یارَبّ! اور ہو | قرب جنّت میں عطا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| یاالٰہی! شکریہ عطّاؔر کو تُو نے کیا | شعر گو، مدحت سرا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## یومِ عثمانِ غني ونمانځئ

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** 18 ذُو الـحِجَّة د مسلمانانو د دریم خلیفه، حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهادت ورځ وي، په کور کښې، دفتر کښې، په دُکان کښې چرته چې کیدے شي، د هغوئي یاد ونمانځئ! د هغوئي د اِیصالِ ثواب د پاره فاتحه شریف ولولئ! خوارهٔ وغیره تقسیم کړئ! ځومره به ښه وي چې په کور کښې هم بندوبست اوکړئ! د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه رساله ده: **کراماتِ عثمانِ غنی**- ټول کور والا راجمع کړئ او دا رساله د هغوئي په مخکښې ولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! ډیر برکتونه به مو نصیب شي- الله پاک دې د خپلو خوښو بندګانو په وسیله مونږ نیکان جوړ کړي او مونږ ټول دې د نیکو پابند جوړ

کړي او نورو د نیکو طرف ته رابلونکي جوړ کړي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د بیان پهٔ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** چا چې واجِب قرباني اونکړه، اوس دې هغه صدقه اوکړي-

**وضاحت:** که د قربانۍ د واجِب کيدو باوجود يې قرباني اونکړه او د قربانۍ ورځې تيرې شوې نو اوس هغه قرباني نشي کولے- اوس به څهٔ کول وي؟

د دې به دوه حالتونه جوړيږي: (1): که څاروے يې اخستے وي، اوس واجِب دي چې هٰغه څاروے ژوندے صدقه کړئ! (2): او که څاروے يې نهٔ وي اخستے نو اوس د څاروي قيمت صدقه کول واجِب دي-(1)

اللّٰه پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيۡن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]… دار الافتاء اہل سنت، فتوی نمبر: Web99۔

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَانَافِعُ (اے نفع ورکوونکیه)

څوک چې د یو کار د شروع کولو نه مخکښې یَانَافِعُ 20 کرته ولولي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هٔغه کار به د هغهٔ د خوښې مطابق کیږي- [1]

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... مدنی پنج سوره، صفحه: 258۔